# پښتو فکشن کښې د مابعد جدیدیت تجزیه

# An Analysis Of Postmodernism In Pashto Fiction

Muhammad Anwar Khan Aurakzai [1]

Postmodernism is a movement which reflects various fields of interest. It is applied on literature, architecture, manufacturing, engineering, medical and fine arts. Professional fields tend to mould with the ongoing replacement of thing. Ideas incline to reshape through the process of modification. Postmodernism is termed in three perspectives i.e. era, generally after World War II and specifically from 1970, the philosophical ideas and critical thinking of late 1960s referring Poststructuralists Jacques Darrida, Michael Foucault, Jean-Francois Lyotard and Martin Heidegger and consequently a compact package that refers to the era and philosophical and critical studies. Postmodernism is also used as synonym term along with post-industrialism movement. In literature postmodernism is a live movement prevailed worldwide irrespective of constantly challenging by various fields' thinkers. Literary, Postmodernism is the death of Grand-narratives or meta-narrative. It focuses on micro-narratives where social and economic ideas flourish significantly. In Pashto fiction postmodernism starts after the drive of 9/11. In Pashto fiction the events, scenes, situations, scenarios and ideas refer to Postmodernism have been explained frequently. Some fictional writings comprising the terms and terminologies referred to postmodernism. Some writers of Pashto fiction challenge the traditionalists. They opt to channelize the Pashto fictional writing on the parameters of world literature. They tend to challenge the traditional ways of writing as ill-dated and out-moded. Social and economic changes will in dire need to be reshaped with the global rapid changes. It leads to the discourse where ultimate reality seeming cease able. This paper will reflect the movement of postmodernism elaborated in the form of terms and terminologies constructed in the fictional writings of Pashto literature.

**Key Words:** Postmodernism, Post-modernity, Post-Postmodernism, Post-industrialism, Post Structuralism, critical thinking, grand-narratives, meta-narratives, micro-narratives, Science-fiction, Artificcal intelligence, Cybernetics, Deconstruction.

ما بعد جدیدیت په فکشن کښې یو باقاعده ادبي تحریک دے۔ د دې ابتداء د مغرب نه شوې ده۔ د دې ابتداء په یورپ کښې د جدیدیت نه پس کېږي۔ په یورپ کښې د دویم نړیوال جنګ نه پس په ادبي حلقو کښې د جدید متن په حواله ذهني خلفشار پیدا شو۔ ادبي حلقو دا محسوسه کړه چې

1 PhD Research Scholar Pashto Academy University of Peshawar

د جدیدیت تحریک پایې ته رسېدلے دے۔ د جدیدیت تحریک متون نړی د بربادۍ نه بچ نه کړه۔ د جدیدیت تحریک په متون کښې نړیوال ژوندته خطر پېښ شو۔ ادبي حلقو کښې څېزونو ته د شک په نظر لیدل شروع شو۔ دراصل لوستونکو ته په متن کښې خرابۍ په نطر راغلې۔ د دې له کبله لیکوالانو په نوې پېرایه کښې لیک کول شروع کړو۔ د رد تشکیل (Deconstruction) نظریه د مابعد جدیدیت تحریک یوه بنیادي اصطلاح ده۔

"مابعد جدید یت ایک ایسے ذہنی رویے اور ادبی مزاج کا نام ہے جس میں تاریخی و ثقافتی صورت حال کو اہمیت دی جاتی ہے۔ مابعد جدیدیت تخلیق پر بٹھائے جانے والے پہروں کی کسی بھی شکل کو تسلیم نہیں کرتی۔مابعد جدیدیت ایک نئ صورت حال بھی ہے اور جدیدیت سے انحراف بھی۔ یہ انحراف ادبی بھی ہے اور نظریاتی بھی۔ جدیدیت کے بعد کے دور کو مابعد جدیدیت کہاجاتاہے۔یہ فنکار کے زندگی اور سماج سے آزادانہ جڑنے کا عمل ہے۔"(۱)

"مابعد جدیدیت د یوې داسې ذهني روېې او ادبي مزاج نوم دے کوم کښې چې د تاریخي او ثقافتي صورت حال ته اهمیت ورکولے کېږي۔ مابعد جدیدیت په تخلیق څۀ پابندي نه مني۔ مابعد جدیدیت یو نوے صورت حال سره د جدیدیت نه مخ اړول هم دي۔ دغه انحراف ادبي او نظریاتي دواړه دي۔ د جدیدیت نه پس دور ته مابعد جدیدیت دور وئیلے کېږي۔ په مابعدجدیدیت کښې فن کار په ټولنه کښې په ازاده توګه ژوند ترسره کوي۔"

په پښتو ادب کښې د دې ارزښت د ۱۱ ستمبر ۲۰۰۱ نه پس په نظر راغلو۔ پښتو لیکوالانو ته د دې خبرې ارزښت اندازه ولګېده چې څېزونه په نوي انداز کښې پېش کول د وخت ضرورت دے۔ د دې دپاره مهابیانیو ته د شک په نظر لیدل شروع شو چې بالاخر د ردتشکیل طرف ته یو ګام وۀ۔ د دریدا رد تشکیل اصطلاح د پس ساختیات تحریک دے۔

" یو ماښام د لیلیې په سالون کښې ټیلي ویژن ته ناست وم، سندره په نیمائي کښې پرې شوه، نطاق عاجل خبر ووایه، په ټیلي ویژن کښې دوې طیارې راغلې، د امریکې په تجارتي مرکزونو ولګېدې، لوړرو تعمیرونو اور واخست۔ د امریکې جمهور رائیس دا کار په القاعده پورې وتاړه۔ میاشت وروسته په افغانستان کښې

د طالبانو لومړۍ ليکې بمبار شوې۔ ډېر وخت لا نه وۀ وتلې چې زرګونه امريکايان ورغلل۔"(۲)

مابعدجديديت پښتو ادب کښې د تحريک شکل اختيار کړے دے۔ په مختلفو ناولونو او لنډو قيصو مجموعو کښې د مابعد جديديت تحريک حالات او واقعات بيان شوي دي۔ پښتو فکشن کښې د مابعد جديديت اصطلاحات وضع کول ضرورت لري۔ د هر ادبي تحريک وضع شده اصطلاحات وي۔ د مابعد جديديت تحريک اصطلاحات اوږد تفصيل لري۔ پښتو فکشن کښې د مابعد جديديت اصطلاحات په فکشن کښې د بيان شوو حالاتو او واقعاتو سره سم وضع کولو سره به د پښتو فکشن مخ په وړاندې لاړ شي۔

"Literary postmodernism was officially inaugurated in the United States with the first issue of boundary 2, subtitled "Journal of Postmodern Literature and Culture", which appeared in 1972. David Antin, Charles Olson, John Cage, and the Black Mountain College school of poetry and the arts were integral figures in the intellectual and artistic exposition of postmodernism at the time. Boundary 2 remains an influential journal in postmodernist circles today." (3)

"په ادبي حواله د مابعد جديديت په متحده رياست هاے کښې د "بونټي ۲" د اشاعت سره ابتدا کېږي ـ "بونټي۲" د مابعد جديديت ادب او کلتور يو ذيلي مراسله وه کومه چې په ۱۹۷۲ء کښې په منظر عام راغله۔ ډيوډ انټن، چارلس اولسن، جان کيج او د بليک مونټين کالج سکول شاعرۍ او ارټس په دې ضمن کښې په هغه وخت کښې د پوهانو او ارټس لحاظ سره د مابعد جديديت مظهر وۀ۔ بونټي ۲ مراسله د مابعد جديديت پوهانو دپاره نن هم متاثر کُن مراسله ده۔ "

ټولنه کښې انسانان په يو شکل نه وي۔د انسانانو د شکل مشابهت امکان لري مګر د مازغو فکرونه هر ګز يو شان نه شي کېدے۔ په يو ماحول کښې د دوو انسانانو فکرونه په سائنسي بنياد هېڅ مرکزي نقطه نه لري۔ هر انسان ناقابل پيشن ګوئ ان پريډکټيبل (Un predictable) دے۔ يوه جوړه ښځه او خاوند په فکري توګه مختلف الانواع سوچونه لري۔ د بل انسان ارادې پټ رازونه دي ځکه فکشن هم په نوؤ او منحرفو زاويو ليکل ممکنات لري۔

مابعد جديديت د اضافيت اصطلاح د ژوند په هر اړخ کاروي۔ مادي وسائلو نړۍ د خطر سره مخامخ کړې ده او د ارکي ټائپ (Archetype) شکلونه ئې ګډ وډ کړي دي۔ مينه، شفقت، نفرت، همدردي، دلجوئ، صبر او جذبه د ريلېټيو فکټر په وجه تغير پذير دي۔ د ارکي ټائپ هر جزو د ريليټيو فکټر له کبله د تشکيک ښکار دے۔ مابعد جديديت تحريک د ژوند ښۀ کولو دپاره د مهابيانيو رد تشکيل کولو تحريک دے ۔

مابعد جديديت په حقله ډاکټر اقبال آفاقي ليکي!

> *"مابعد جدیدیت کثیر الجہت ثقافتی تحریک ہے۔ یہ گزشتہ کئی سو سال سے یورپی سماجیات میں رائج تفکر کے غالب دعوؤں اور اُصولوں کو شک و شبے کی نگاہ سے دیکھ اور پرکھ رہی ہے۔ یہ وہ مفروضے اور دعوے ہیں جنہیں جدیدیت کے دور میں مرکزیت حاصل رہی ہے۔"(۴)*

> "مابعد جديديت ګڼ اړخيز کلتوري تحريک دے۔ دا تحريک په يورپي ټولنو کښې د تير شوو څو سوو کالونو نه راروانو غالبو فکري دعوؤ او اصولو ته د شک په نظر ګوري کومو ته چې په جديديت دور کښې مرکزيت حاصل وۀ۔"

مابعد جديديت تحريک په ادب کښې د متن په حواله شکونه پيدا کوي۔ دراصل د مابعدجديديت ليکوالان د رد تشکيل حاميان دي۔ د پاسټش (Pastiche) اصطلاح په لاشعوري توګه تقليد رد کول غواړي۔ د ميډيم اف انسټرکشن په حواله د مابعد جديديت ليکوالان څرګنده کوي چې د ټولنې ترجماني په بل کوم ميډيم کښې امکان لري۔ فکشن ليکوالان په نوو زاويو ليکلو ته دوام ورکړي۔ د ليک تعين داسې صورت اختيار شي چې د مابعد جديديت د اصطلاتو التريتي، ميزوجيني، ثنائيت، بريکوليج، ردتشکيل او داسې نورو په تناظر کښې د قوي ټولنې تشکيل اوشي۔ معاصر صورتحال لس کاله وړاندې يو عمل ته په هغه زاويه نه ګوري۔ د دې مطلب دا شو چې د ټولنې شعور د قدغن لاندې وۀ۔ د قدغن لاندې معاشي، معاشرتي، سماجي او روايتي اعمال ترسره کول د لاشعور د جبر لاندې ژوند د متن پيروي کول دي۔ د متن بې جاوو ګډ وډ تشريح په هره حواله د لاشعور حافظه په شعوري کردارونو کښې ښکاره شي۔ د متن غلط تشريح ټولنه د انتشار طرف ته بوځي۔ د

رولان بارتهه د مصنف مرګ د لوستونکي پېداکېدو کېښې د متن ازادانه تشریح د لوستونکي په حواله ده۔ لوستونکي ته د ژوند د معیارو اندازه لګول د مابعدجدیدیت ادبي تحریک زرخیز اړخ دے۔ عقیدت مند ژوند د عقیدې تابع ګڼي له دې کبله د سماجي، معاشي، معاشرتي او سیاسي اړخونو نه مذهبي اړخ ډېر ارزښت لري۔ د دریدا د متن ردتشکیل اصطلاح د ساختیات نه پس ساختیات په لورې داسې ګام دے چې د ژوند دپاره د نوے میډیم اف انسټرکشنز(Medium of instructions) لار پرانیزي۔ دراصل ردتشکیل د متن په په حواله مواد په نوي انداز کښې اچول دي۔ رد تشکیل د متن تخریب نه دے۔ په دې فلسفیانه اصطلاح کښې د متن په حواله د بریکولیج اصطلاح هم ځینو حالاتو کښې د ساختیاتو تخریب ښکاري۔ رد تشکیل د مابعد جدیدیت د نورو اصطلاحاتو په شان د متن په حواله شکوک و شبهات پیدا کوي کوم چې د الهیاتو تر حده د قبولیت وړ اصطلاح نه ده۔ پس ساختیات لیکوالان دې ته نظر کوي چې د څیزونو په حقله انساني روېې تغیر پذیر دي۔ څیزونه د ترمیماتو په شکل کښې نوې اړخونه بدلوي۔ په پښتو کلتور کښې د میزوجیني اصطلاح وخت سره بدلون اخلي۔ د فیمینزم اصطلاح یو تحریک شکل اختیاروي۔ مواد په نوي انداز کښې اچول کیږي۔

"مابعد جدیدت تحریک مرکزیت، کلیت، استناد او اتھارٹی کے خلاف ہے۔"(5)

"مابعد جدیدیت تحریک د مرکزیت، کلیت ، استناد او اتهارټي خلاف دے۔

مابعد جدیدیت د رد تشکیل (ساخت شکني) اصطلاح د فن پارو په حقله کوي مګر زیات زور په مستقبل ورکوي۔ د سائبرنیټکس، سائبر کرائمز، سائبر پنک، سائب ارګ او سائبر ټیکنالوجي په حواله د مابعد جدیدیت اپروچ سره د جدیدیت تحریک تعلق محض دومره کېدے شي چې د مابعدجدیدیت ایجاداتو کښې صرف د نامنکلیچر (Nomenclature) ترحده جدید یا ماډرن اصطلاح کارول کېدے شي۔ د جدیدیت تحریک د خاتمې دعویدار وائي چې په مابعد جدیدیت تحریک کښې د جدیدیت تحریک اصلاحاتو تشریح کول د مابعد جدیدیت اصطلاحاتو په تناظر کښې د بریکولیج تر حده دے۔ د دې یو مثال دا کېدے شي چې د یو فرد نوم سره به په ډاکومنټېشن (Documentation) کښې په راتلونکي وخت کښې د پلار د نوم ضرورت نه وي۔ په مستقبل کښې به یو فرد د نړیول کلي اوسېدونکے وي۔ دې سره به ټولنیز ژوند په نوې پیراډائم روان شي۔ انسان په فطري توګه ازادي پسند

دےـ د دې برعکس کلتور مستقل ساتل یو چیلنج دےـ کلتور محرک فکټر دےـ د رسنیو په ذریعه د ژوند اقدار او اوصااف بدلون طرف ته روان دي۔ کلتور د مېنځ نه ورلو سره جغرافیې ته خطر پېښ کېدے شي۔ په مابعد جدیدیت تحریک کښې که یو طرف ته مهابیانیې(Grand-narratives) چیلنج شوي دي او د دې برعکس د مائیکرو نېرېټیو (Micro-narratives) (ورېې بیانیې) ترویج کول دي مګر د نړۍ تیز رفتار بدلون د ژوند هر اړخ بدلوي۔

مابعد جدیدیت داسې اصطلاحات په فکشن کښې کاروي کوم چې د سائنس سره تعلق لري۔ د دې په حقله په مابعد جدیدیت تحریک کښې د سائنس فکشن اصطلاح کارول کېږي۔ په سائنس فکشن کښې هرې ادبي فن پارې ته په سائنسي طریقه کتل دي۔ د انټي فونډېشنل ازم، انټي کمیونزم، انټي ایکسټریمزم، انټي کالونئیلزم او انټي میټهه اصطلاحات په مابعد جدیدیت کښې په سائنسي بنیادونو کتل دي۔ د دې مثال په لنګوسټکس کښې د فارنزک لنګوسټکس په شکل کښې او په لیبارټرۍ کښې د کلوننګ په حقله دےـ فکشن۔ د فکشن لیکوال چې څۀ کوري هغه لیکي۔ کوم ایجادات او تخلیقات کېږي د دهغې نظر اخلي او په فکشن کښې ئې خوندي کوي۔ له دې کبله د ژوند هر اړخ د فکشن په صورت کښې په نظر راتلل یقیني دي۔ مابعد جدیدیت لیکوالان د کلیت یا الټې میټ ریالټي په حقله د ساخت شکنې په حق کښې دي۔ د الټي میټ ریالټي په حقله د مابعدجدیدیت سائنسدانان د کاسمولوجي علم په ذریعه د نوو دریافتونو په حقله په ځټه کښې دي۔ یو وخت کښې که زمکه د کائنات مرکز بللے شو مګر اوس نمر د کائنات مرکز بللے شي۔ د بطلیموس رد په نتیجه کښې کوپرنیکس رد هم ممکن دےـ د دې نظرېې برعکس تحقیقات د نوو سیارو دریافت په شکل کښې نوې نظریه مخې ته راتلے شي۔

## مابعدجدید حالت (عهد) (Post-modernity)

پوسټ ماډرنیټي (مابعد جدیدیت حالت) د پوسټ ماډرن (مابعد جدیدیت) نه بدل کیفیت دےـ مابعد جدیدیت یو تحریک دےـ مابعد جدید حالت یو کېفیت دےـ مابعد جدید حالت د مابعد جدیدیت تحریک د زمان او مکان په حواله یوه برخه یا حصه دهـ مابعدجدیدحالت یو صورت حال دےـ د مابعد جدید تحریک د فکشن یو کردار د ناول یا افسانې د مابعد جدیدحالت یو صوت

حال دے۔ د دې اطلاق د وخت او ځاے سره کېږي۔ مابعد جديديت تحريک کښې ازادانه افکارو څرګندونه کېږي۔

"عہد پس جدیدیت/یامابعد جدیدیت اُس ثقافتی صورت حال کی نشاندہی کرتی ہے جس میں ہم زندگی گزار رہے ہیں۔ یہ ثقافتی حال دور جدیدیت کے انہدام کے نتیجے میں پیدا ہوئی ہے۔ ماڈرنٹی مغربی ثقافت کے بہت سے رجحانات کی نمائندہ تھی۔ ان رجحانات میں سماجی اور معاشی بہتری کے عقائد اہم تھے۔ خصوصاًنا گزیر ترقی کا تصور۔ مغربی مفکرین کا خیال تھا کہ ہر نئی نسل پہلی نسل سے ٹیکنالوجی اور اعلیٰ علم کے حوالے سے بہتر ہو گی اور اپنے سے پہلے والی نسل سے آگے نکل جائے گی۔ جدیدیت کي سیاست میں ترقی سے کمٹ منٹ کو لازمی تصور کیا گیا۔ سوشلزم ہو یا سرمایہ داریت سب کو یقین واثق تھا کہ زندگی کو ترقی دے کر بہتر سے بہتر بنایا جاسکتا ہے۔ یہ سلسلہ نا مختتم ہے۔ سائنس اور ٹیکنالوجی اس مقصد کے حصول میں ضامن کا کردار ادا کرتے رہے ہیں۔ اسے آپ ترقی کی آئیڈیالوجی کا نام بھی دے سکتے ہیں۔ اس آئیڈیالوجی کو اکثر اقوام نے قبول کر لیا تھا، تیسری دنیا کی پس ماندہ اور غریب اقوام نے بھی اسے ہاتھوں ہاتھ لیا۔"(6)

"د مابعد جديديت عهد د هغه کلتوري صورت حال نشاندهي کوي کوم عهد کښې چې مونږ ژوند کوو۔ دا کلتوري عهد د جديديت ختمېدو په پاے کښې مخې ته راغلو۔ عهد مابعد جديديت د مغربي کلتور د ډېرو رجحاناتو نمائندګي کوله۔ په دې کښې ټولنيز او معاشي رجحاناتو عقېدې ته ارزښت حاصل وۀ۔ په خصوصي توګه لازمي ترقۍ تصور سرفهرست وۀ۔ د مغربي مفکرينو دا خيال وۀ چې د ټيکنالوجۍ په حقله هر نوے نسل د تېرشوي نسل نه د اعلي تعليم په حواله به ډېر ښۀ وي او تېر شوي نسل نه به مخې په وړاندې وي۔ سياست کښې ترقۍ سره ټينګه وعده کول ئې لازمي اوګڼلو۔ سوشلزم وي او که سرمايه دارانه نظام وي د ژوند ښۀ کول ئې ترقۍ سره تړل لازمي کړو۔ دا يوه نه ختمېدونکے سلسله ده او سائنس او ټيکنالوجۍ د دې دپاره د ضمانت کار ورکوي۔ دې ته د ترقۍ

خيالي تصور نوم ورکوــلے شي۔ دا ترقۍ اکثرو قومونو قبوله کړې وه۔ د دريمې نړۍ پرېوتې او غرېبو خلقو قومونو هم قبوله کړه۔"

پوسټ ماډرنټي د مابعدجديديت يو عهد يا صورت حال دــے۔ دا صورت حال د تحريک په دورونو کښې يو دور کېدــے شي۔ دا دور د زمان او مکان د صورت حال نمائندګي کوي۔ په پوسټ ماډرنټي کښي د ليکوالانو د کاريو عهد کېدــے شي۔

## مابعد جديد سائنس (Postmodern Science)

مابعد جديديت تحريک د سائنس او ټيکنالوجۍ دور دــے۔ په دې دور کښې سائنس او ټيکنالوجۍ نوې دريافتونه او ايجادونه کوي۔ په کائنات کښې د زمکې حيثيت د حجم په لحاظ ډېر کم دــے۔ کاسمولوجي علم د دې درياقتونو دپاره ځمې کوي۔ مابعد جديد سائنس د درياقتونو او ايجاداتو په حقله په نوؤ زاويو څېړنې کوي۔ په کائنات د اختيار کولو دپاره هڅه کوي۔ کائنات کښې د سيارو درياقت د سپيس سائنسدانانو يو تجسس دــے۔ د دې په حواله خلا ته سيټلائټ لېږي۔ د ژوند په هر اړخ سائنس اثرات پرېباسي۔ نوې ايجادات دا ښائي چې که نړۍ د فطري خطرو او جنګونو نه په امن کښې پاتې شوه نو مستقبل کښې به د ژوند معيار بدل وي۔ د متبادلاتو په شکل کښې به ژوند په نوي انداز وي۔ دې کښې انسان د نړيوال کلي اوسېدونکے کېدــے شي۔ د انسان خپل ساخت نه واخله تر کائنات مغلوب کولو دپاره متبادلات د مابعد جديد سائنس موضوعات دي۔

## پسِ مابعدجديديت (Post Postmodernism)

جديديت دور په مغرب کښې د دويم نړيوال جنګ سره سر ته رسي۔ دې نه پس د مابعدجديد دور تحريک شروع کېږي۔ د مابعدجديديت دور اوس هم روان دــے مګر ځيني ليکوالان دا وائي چې د مابعدجديديت دور سر ته رسېدــلے دــے۔ د دې په حقله دا وئيلے شي چې د هر دور خپل موضوعات او اصطلاحات وي۔ د جديديت موضوعات هيومنزم او انډسټريلزم او داسې نور موضوعات او اصطلاحات وو۔ معاصر وخت د دنيا څلورم صنعتي انقلاب دور دــے۔ د مابعد جديديت موضوعات ساخت شکني، تانيثيت او داسې نور ډېر موضوعات دي۔ د پس مابعد جديديت

اصطلاحات لا وضع شوي نه دي۔ حالات او واقعات په نوو زايو ارخونه بدلوي۔ دا امکان لري چې وخت سره د دې وضاحت اوشي۔ مګربلاشبه پښتو فکشن کښې مابعد جديديت بحيثيت تحريک روان دے۔ د دې ابتداء شوې ده۔ د دې پرمختګ دپاره ليکونه روان دي۔ په مختلفوليکونو کښې هغه ټول حالات او واقعات په نخښنه شوي دي مګر د اصطلاحاتو وضاحت نه کولو وجه کمه علمي سطح ده۔ پښتو ادب کښې څۀ اصطلاحات واضح شوي دي۔ مستقبل کښې به د اصطلاحاتو سره سم ليک پښتو ادب په نوې زاويه روان کړي۔ دې سره به د پښتو ادب موضوعات بشپړ شي۔

"سوال یہ ہے کہ کیا کوئی ایسی چیز موجود ہے جسے پس مابعد جدیدیت کا نام دیا جا سکے۔ یہ سوال خاصا بحث طلب ہے۔ کچھ ثقافتی نظریہ سازوں کا استدلال ہے کہ ہم مابعد جدیدیت کے دور سے نکل چکے ہیں۔ ان کے نزدیک یہ بیسویں صدی کے اواخر کا وقوعہ تھا جو اب اپنا سفر مکمل کر چکا ہے۔ لیوتارڈ نے جدیدیت اور مابعد جدیدیت کو عمومی اصطلاحات کے طور پر برتا اور انھیں ایسی ثقافتی تحریکوں کے طور پر پیش کیا جو بالعموم ایک دوسرے کی جگہ لیتی رہتی ہیں۔ ایک سلسلہ وار انداز میں۔ اس نقطہ نظر سے پس مابعد جدیدیت سے مراد جدیدیت کا توارد ہے جس نے مذہبی بنیاد پرستی کو پھر سے زندہ کر دیا ہے۔ اس طرح پس مابعد جدید سماج جدیدیت کے برعکس ایک نئی قسم کے عقیدہ پرست سماج کو سامنے لائے گا جس کی جگہ جدیدیت نے لی تھی۔"(۷)

"دا سوال پيداکېږي چې داسې څۀ په نظر راځي چې مونږ ورته د پس مابعد جديديت نوم ورکړو۔ دا سوال بحث غواړي۔ ځينې نظريه ساز دا دريز لري چې مونږ د مابعدجديدت د دور نه تېرشوي يو۔ د دوي په خيال مابعد جديديت د شلمې پېړۍ په اخره کښې موجود وۀ مګر اوس ئې خپل سفر مکمل کړے دے۔ ليوتارډ جديديت او مابعد جديديت د عمومي اصطلاحاتو په شکل واخستو او داسې ثقافتي تحريکونو په شکل کښې ئې پېش کړو کوم چې په عامه توګه د يو بل ځائے اخلي۔ دا هر څۀ په يو سلسله وار انداز کښې شوي دي۔ په دې تناظر کښې د پس مابعد جديديت مطلب د جديديت دور دوباره راتلل دي۔ دې سره مذهبي بنياد پرستۍ دوباره زور واخستو۔ د دې برعکس پس مابعد

جدیدیت به یو بل قسم عقیده مېنځ ته راوړي کومې چې د جدیدیت ځائے نېولے دے۔"

## پس ساختیات (Post-Structuralism)

پس ساختیات او مابعد جدیدیت د یو تحریک دوه نومونه دي۔ د ساختیاتو نه بعد د پس ساختیاتو دور راځي کوم چې د جدیدیت نه پس راځي۔ د جدیدیت نه پس د مابعد جدیدیت دور راځي۔ پس ساختیات د میډیم اف انسټرکشن یا نوې میډیم په تلاش کښې د ادب پرمختګ په لور روان دے۔ مګر پس ساختیات تهیوري ده او مابعد جدیدیت یو پوره تحریک دے۔ پس ساختیات د متن ساخت شکنې خبره کوي او مابعدجدیدیت د رد تشکیل خبره کوي چې دراصل دواړه یو دي۔ مابعد جدید دور د کیش فري کنټري (Cash Free Country) او پیپر فري ډیلنګ (Paper Free Dealing) مثالونه دي۔

"مابعد جدیدیت اور پس ساختیات کو ایک ہی سمجھا جاتا ہے مگر دونوں میں بنیادی فرق یہ ہے کہ پس ساختیات تھیوری ہے جبکہ مابعد جدیدیت صورتحال کا نام ہے۔ مابعد جدیدیت کا تعلق براہ راست معاشرے مین ہونے والی تبدیلیوں سے ہے۔ معاشرتی مسائل، ثقافتی شکست وریخت، انسانوں کے آپس میں رویے سب مابعد جدیدیت کی قلمرو میں آجاتا ہے۔"(۸)

"مابعدجدیدیت او پس ساختیات یو شمارلے شي مګر په دې دواړو کښې بنیادي فرق دا دے چې پس ساختیات تهیوري ده او مابعد جدیدیت صورت حال دے۔ د مابعدجدیدیت تعلق په ټولنه کښې د نیغ په نیغه بدلون سره دے۔ په ټولنه کښې شخړې، کلتوري ګډوډے او د انسانانو په مېنځ کښې روېې د مابعد جدیدیت په لیکونو کښې راځي۔"

مابعد جدیدیت د متن اکثر تشکیل رد کوي۔ د دې دپاره دلیل یا جواز راوړل په وخت پرېږدي۔ لکه د مثال په توګه په نوو سیارو کښې د انسان یا انسان نام (الیین) په حقله لیکونه شوي دي۔ مګر د دې شبهاتو سره امکانات لرل خارج از امکان نه دي۔

قبائلي نظام يا قبائليت د بنياد پرستۍ نظام دے۔ مابعدجديديت د دې نظام رد کول غواړي۔ د تکثيريت ماحول مطابقت کښې د څۀ ابتر يا برتر توضيح نه شته۔ د شناخت، کلتور، تهذيب، مذهب په حواله د تکثيريت اصطلاح د مابعد جديديت تحريک د موافقت او مطابقت داعي دے۔ مابعدجديديت د انټي کميونزم، انټي فونډيشنلزم، انټي ايکسټريمزم، انټي سټرکچرلزم، انټي ټيررزم، انټي ميتهه او انټي کيپټلزم اصطلاحاتو د تشريح و تو ضيح کولو تحريک دے۔ مابعد جديديت تحريک انسان د متن غلام ګڼي او د دې غلامۍ نه د خلاصون عقلي دلائلو دپاره د کاسمولوجيکل دريافتونوپه حقله د کليت نظريه رد کوي۔ د مصنوعي ذهانت په حقله د مابعدجديديت تحريک پيش ګوياڼې کوي۔ د جنياتي ناک اؤټ (Genetically Knock Out) په حواله د سپر مين تخليق انسان په حيرت کښې اچوي۔ د بلې سيارې د دريافت او د نورو مخلوقاتو د شتون په حواله د کوم خطر يا سپر ټيکنالوجۍ د شتون په موجودګۍ کښې د دې نړۍ انسان او ماحول ته د زيان رسولو په حقله خبرداري کوي۔

په پښتو فکشن کښې د دې اصلاحاتو او توضيحاتو ضرورت په دې بنياد دے چې په نورو ادبياتو کښې په مابعدجديد اصطلاحاتو او صورت حال فکشن کښې ناولونه ليکلي شوي دي او په دې باندې فلمونه جوړ شوي دي۔ د سائبر نيټکس په حواله جوړ شوي فلمونه د دې مثالونه دي۔ پښتو فکشن کښې اګرچې بلها کمزورۍ دي مګر د نصير احمد احمدي ناول "جُوجُو" کښې د بلې سيارې نه راغلي انسان نما د عقل څښتن انسان د دې يو غوره مثال دے۔

د بلې سيارې د کوم ژوندي سري امکانات شته۔ د کاسمالوجي علم د کائنات پټ رازورنه ښکاره کوي۔ د بلې سيارې ژوندي سري عقل لرونکو په حقله په فيکشن کښې تجربات کيږي۔ د نورو سيارو د ټيکنالوجۍ په حقله فيکشن کښې ليکونه کيږي۔ د نورو سيارو د ژوند او ټيکنالوجۍ په حقله فيکشن محض پيشن ګوياڼې کوي۔ مګر په نورو سياروکښې ژوند خارج از امکان نه دے۔ په جُوجُو ناول کښې د بلې سيارې ژوندے سړے په سفينه کښې رائحي۔

"ستاسو په چوتره کښې مې يوه ګرده جالۍ وليده، بس لکه ټوکرۍ، کورت ئې لمر ته پکښې ايښې وو، سفينه هم هغه رقم شکل لري، ځمکې ته په کښې راغلم۔"(۹)

د التېريتي (مبتدليت ) په حقله مابعدجديديت ليکي!

“State of being on the periphery or fringes due to race, gender, or ethnicity … Dissimilarity from cultural norms: A lack of personal identity.”(10)

"د نسل، جنس يا فرقې په بنياد يو طرف ته کولو ته التريتي وائي؛ د کلتوري اصولو غېر يکسانيت؛ د شخصي پېژندګلو محرومي، دې ته التريتي وائي۔“

مابعدجديديت تحريک د آرکي ټائپ اکثر څيزونو ته د اضافيت په نظر ګوي۔ مينه، خلوص، همدردي، صداقت، غم، درد او داسې نور ډېر څيزونه اضافيت سره د څيزونو شکلونه بدل شي۔ لکه د مثال په توګه د غدار کلمه که يو وخت کښې د مذهب، تهذيب او کلتور سره تړلې شوې وه مګر اوس دا کلمه صرف سياسي کلمه ده۔ د دې شاته د نورو اړخونو رد تشکيل يا ساخت شکني شوې ده۔ محبت په يو وخت کښې مجرده نسخه وه چې د دوۀ کسانو په مېنځ کښې د روحاني تړون جذبه وه مګر اوس د دې شکل د روحاني نه زيات مادي ښکاري۔ د مادي شکل نه علاوه د يو کس مينه صرف يو کس پورې محدوده پاتې نه ده۔ د دې جواز داسې کېږي چې د مينې د مقدار څۀ پيمانه نه شته لهذا د مينې د وېش څۀ حدونه نه شته۔ د اضافيت سره د يو کس مينه په يو وخت کښې په ډېرو څيزونو کېدے شي۔ دا څېزونه په يو وخت کښې د يو نه زيات انسانان کېدے شي۔ د مابعد جديديت تحريک يوه خاصه دا هم ده چې د سوچ و فکر ازادي نوې لارې خلاصوي لهذا د سوچ او فکر دائره وسيع تر د ژوند متبادلاتو دپاره لار پرانېزي۔ رشتې د مادې طرف ته زور کوي۔

"مابعدجديديت همیں يه سمجھنے کی ترغيب ديتی ھے که بنيادوں کے ٹوٹنے سے هماری زنجيروں کے علاوه کسی شے کا نقصان نه هوگا۔ هم نے اپنے عمل کو بجا ثابت کرنے کے لیے اپنے گرد بھاری بھر کم مابعدالطبيعاتی گٹھڑی رکھے بغير جوچاھيں وه کرسکتےھيں۔ هم نے اپنے هاتھوں کو اس گٹھڑی سے آزاد کرليا ھے۔"(۱۱)

"مابعد جديديت مونږ ته دا ترغيب راکوي چې د بنيادونو نړېدو سره زمونږ د زنجيرونو شلېدو نه علاوه نور څۀ نقصان نه کېږي۔ مونږ خپل عمل ته جواز پيدا کېدو دپاره ځان نه ګېر چاپېر مابعدالطبيعياتي لوے پنډ اېښودو بغېر چې څۀ غواړو هغه کوو۔ مونږ به خپل لاسونه د دې پنډ نه ځانونه خلاصوو۔"

ویډیو ګیمز، کارټونان او ویژول ایفکټس د ټیکنالوجۍ پیداوار دي او زمونږ د ژوند برخه ده۔ له دې کبله ډرامه د فکشن برخه نه ده۔

"لاجمیر د کور کوټو ته ورغے، اوه کلنه لور ئې کمپیوټر ته ناسته وه۔ د ټام او جېري کارټون ئې کوت۔"(۱۲)

د سائبر پنک په حواله عبدالرحیم روغانے لیکي!

"هغه بله شپه خپلو خیالونو په خپله غېږه کښې واخستم او د یو کافي لرې او رنګین مستقبل په طرف ئې یوړم۔ یعني دا د مې د میاشتې دېرشم ۲۹۹۷ء کال وۀ۔ دنیا هم دا وه خو خلق دا نۀ وو۔ خلق بدل وو، رواج بدل وۀ او حالات بدل وو۔"(۱۳)

رد تشکیل (Deconstruction) د مهابیانیو رد کوي۔ لیوتارډ مهابیانیو ته ګریټ نیریټیو (Grant narrative)وائي۔ په مهابیانیو کښې هغه متون رائحي کومو چې نړۍ متاثره کړې ده۔ نړۍ د هغه مهابیانیو لاندې ژوند کوي۔ د متون په لوستونکو خپل اثر وي۔ هغه په لاشعوري توګه هم د هغه متن نه متاثره ښکاري۔ د متن اثر لاندې حرکات و سکنات د هغه کردار برخه شي۔ د مهابهانیه په شکل کښې د کمیونزم یو ښۀ مثال دے۔ کمیونزم د بالشویکو په شکل کښې نړۍ د جنګ جګړو سره مخ کړه۔ د کمیونزم بیانیې د زور په شکل کښې د اطلاق کولو کوشش بدترین نتائج راوړو۔ کمیونزم افاقي اطلاق کوشش کولو سره جنګ جګړو ته لاره جوړه شوه۔ د دې په مقابل کښې مائیکرو نیریټیو (Micro Narrative) د کلتور، مذهب او تهذیب سره سم په مقامي سطح اطلاق ښۀ نتائج ورکوي۔ ژاک دریډا دا خیال کوي چې مهابیانیو رد تشکیل پکار دے۔ د دې متون د نړۍ سره سم نه دي۔ د رد تشکیل یا ساخت شکني په حواله د پروفېسر راز محمد راز دا جمله د قدر وړ ده۔

"آنو! یو څوک خو به تضاد خپلوي، کنه د ژوند ارتقاء به څرنګه مخ په وړاندې غاړه غړوي؟(۱۴)

د پښتون په ضد د طالب په نوم چې کومه اصلاح کارول کېږي دا د نړیوالو قوتونو یوه بیانیه ده۔ د پښتون اصل ژوند د دې برعکس دے۔ د دې بیانیې رد تشکیل د وخت ضرورت دے چې

پښتون د نړۍ سره سم تلګ اوکړي۔ د محمد رفيع واکمن په ناول "يو خوب وۀ چې رښتيا شو" کښې هغه د دې بيانيې په ضد د يو کردار په خوله داسې ليکي!

"زه د دې پرواه نه لرم چې د هغې پلار مونږ ته په کومه سترګه ګوري۔ مونږ ته القاعده يا طالب وائي او يا ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ هغه پوهېږي او قضاوت ئې مونږ خپله اسلامي، ايماني، وجداني، افغاني او بشري مرسته تر سره کړه۔۔۔۔۔ شوبا ووئيل! هيله لرم چې د پوجا د پلار پر خبرو خفه نه شئ۔"(۱۵)

نصير احمد احمدي په جُوجُو ناول کښې د زړو روجونو د رد تشکيل په حقله مابعد جديد بيانونه راووړي۔ د زړې بيانيې ردتشکيل په اولس کښې پوهه خورول دي۔ زړه بيانيه د ميتهه يا اساطيري بيانونو سره زوړ طب هم رد تشکيل غواړي۔ رد تشکيل څيزونو رد کول نه دي بلکې د مابعد جديد ادبي تحريک مطابق رغول دي۔

"استاد د يوې ماشومې عکس راوست چې په خاورو کښې ناسته وه، ببر وېښته ئې درلودل او په غاړه ئې څو زېړ پياز راځړيدل۔"(١٦)

اساطيري ليکونه د مابعدالطبيعات په زمره کښې راځي۔ مابعد جديديت دې ته د تشکيک خيال کوي۔ مابعد جديديت تحريک کښې د انتي ميتهه ليکونه شوي دي۔ په پښتو فکشن کښې ئې يو مثال راوړو۔

"بېرور له رنجو ډکې سترګې وربولې: ډاکټر صاحب ته اوس پيريان نه منې۔ ډاکټرد باتور ورغوے وموښه۔ هغه رانيغ شو، پريکړې پريکړې ساه ئې واخيسته۔ بېرور څادر تهک واهه او ډاکټر د فشار اله په بکس کښې کېښوده۔"(۱۷)

نصير احمد احمدي په جُوجُو ناول کښې د بلې سيارې ذکرپه شعوري توګه کوي۔ د بلې سيارې ذکر کول د کاسمالوجي علم دے۔ کاسمالوجي وائي چې په نورو سيارو ژوند شته۔ د سيارو د لرې والي له کبله په يو وخت کښې به رسائي ممکنه شي۔ نصير احمد احمدي په شعوري توګه د مابعد جديد علم د فراختيا عمبردار ښکاري۔ ټولنې ته د علم د فراختيا ضرورت دے۔ د رواياتي علومو دائره محدود ده۔ د علم د فراختيا دپاره د مابعد جديد فکر اشد ضرورت دے۔ مابعد جديد فکر د وخت تقاضه ده۔

کموډي فېکیشن یا انسان ته د لوښي په نظر لیدل مابعدجدیدیت رد کوي۔ انسان او نظریه د خرڅ ځیز نه دے۔ د مابعد جدیدیت تحریک د انسان د خرڅون، قاچاق او غلامۍ په ضد دے۔

مابعد جدیدیت د نظریه او انسان د خرید وفروخت رد کوي۔ نظریه یا مفکوره یو مجرد ځیز دے او انسان یو طبعي حیثیت لري۔ د دې څېزونو د کموډیټي په شکل کښې بارګینګ رد کوي۔ د دې شاته متن هم رد کوي۔ د متن غلامۍ د نړۍ په هره خطه او جغرافیه غالبه لري۔ د جغرافیې نه پرته په نړیوال کچ د متن خپل اثرات انسانان په خپلو لارو روان کړي دي۔ پس ساختیات او مابعد جدیدیت د کموډیټي اصطلاح د متن ډي کنسټرکشن کول غواړي۔

"سیال خانه پښتانه یو خو د یوېشتمې پېړۍ پښتانه یو، اوس هغه فکرونه له خاورو سره خاوري شوي چې ښځې ئې لکه د مال او زرو غوندې په میراث پاتې کېدونکي شیان ګڼل۔ نه اسلام دا واﺋي او نه ننۍ پښتو، دغه فکرونه دې له ځان سره سنبال کړه او چې بله ورځ په دې لوري راونه ګورې۔"(۱۸)

د سائبر پنک په حواله د مابعد جدیدیت سائنسدانان د ۲۰۷۷ء وخت ښائي چې دنیا به د ټیکنالوجۍ په حواله ترقي یافته وي۔ د ترقي یافته دنیا ممکنات د مائیګریشن په شکل کښې امکان لري۔ د یوې خطې ابتر حالات د خلقو مکمل مائیګریشن ته لار جوړوي۔ موجوده حالاتو کښې مائیګریشن ډېر په زور روان دے۔ دا به په دنیا نوې اغېزه اوکړي۔

"هغه بله شپه خپلو خیالونو په خپله غېږه کښې واخستم او د یو کافي لرې او رنګین مستقبل په طرف ئې یوړم۔ یعني دا د مۍ د میاشتې دېرشم ۲۹۹۷ء کال وۀ۔ دنیا هم دا وه خو خلق دا نۀ وو۔ خلق بدل وو، رواج بدل وۀ او حالات بدل وو۔"(۱۹)

زړه رسمونه اومابعد جدید ایجادات د پښتو ټولنې د مابعد جدید دور د فېکشن ادبي تحریک المیه ده۔ د بائنري ایکسټریمیټي (دوه رُخي انتها) ټولنه د تشکیک او تذبذب ښکار کړې ده۔

"یو دم ئې پرعکس لاس کېښود، جدي څېره ئې ونیوله، په زوره ئې وویل: مدیر صاحب! د عکس تر شا ډېران او رنګ ډېوالونه دي۔ خاورې، خړ کورونه،

په خاورو کښې بې پرتوګه ناست خیرن ډنګر ماشومان، سپېره مخونه، پر دېوال سرېښ ګرد ګرد خوشايي۔۔۔۔ ټول هغه څۀ دي چې ما درې سوه کاله مخکې لیدلي وو۔ دا ئې بله ګاه ده، جُوجُو د موټر عکس په درې سوه کاله مخکې عکس کښې ګډ کړے دے۔"(۲۰)

سائبرنیټکس ماحول د انسان په ژوند ډېر اثرات مرتب شو۔ انسان د ټیکنالوجۍ غلام ښکاري۔ انسان د ژوند ټولو لوازماتو دپاره په ټیکنالوجۍ انحصار ته روان دے۔ د ټیکنالوجۍ نه بغېر ژوند بې معني ښکاري۔ د تیز رفتار ټیکنالوجۍ پیغامونو د ژوند معیار بدل کړو۔

ګوره! خدائے دې مل شه، خو د هغه خبره هم مهمه وه۔ تا ته چې کوم چا اجازه درکړې ده د هغه نه ټول دفتر خبر دے۔ پلار مې فکر کاوه چې ته به سبا ځې نو هغه به درته لاره، چاره وښائي، خو چې روان شوے ئې نو احتیاط کوه او برېښنا لیک دې ګوره۔"(۲۱)

په نړۍ کښې د ترقۍ په لحاظ دې بلاکونه دي۔ یو ترقي یافته ملکونه، دویم ترقي پذیر کوم چې پرمختګ کول غواړي او دریم د ترقۍ نه پاتې ملکونه دي۔ د ترقي یافته ملکونو د پاتې ملکونو سره مقائسه نه کېږي۔ ترقي یافته ملک او د ترقۍ یا پرمختګ نه پاتې ملک مقائسه صرف دومره ده چې په دواړو کښې انسانان اوسېږي او د ژوند معیار ئې بدل دے۔

په جُوجُو ناول کښې د دې مقائسه داسې کوي۔

"د ستورو پېژندنې استاد پر دیوال لاس تېر کړ۔ عکس راغے۔ پاک او ښکلے ښار وۀ۔ د لمر رڼا د هسکو تعمیرونو ښېښې ځلولې، تر شنو ونو لاندې پر تور پاک سړک منظم پرېولي موټر روان ول۔"(۲۲)

فیمینیزم یو مستقل ادبي تحریک دے۔ په فیمینیزم (ثنائیت) کښې د مېرمنو د حقونو خبرې د مېرمنو په خوله په پښتنۀ ټولنه کښې هم اوربدل کېږي۔ د دې یو مثال د ډاکټر اسدالله ښالبز په ناول ټېښته کښې داسې راځي۔

"زه افغانه یم او پوهېږم چې افغاني مېرمنې لکه الوتونکي په پنجرو کښې بندې دي۔ مورډ ئې باید حق حاصلولو ته هلې ځلې وکړو۔ مورډ باید۔"(۲۳)

محمد حنيف حيران په خپل ناول "ملاله" کښې د نسائيت په حقله مخکښې داسې ليکي!

"ميره مې ځکه مينه نه راسره کوي چې زه زوے نه زېږوم۔ هېڅ ملا، دم، تعويذ، زيارت او دم ګرے مې پرې نښود، خو د خدائے کارونه دي چې نر اولاد مې نه زېږي او زما خاوند ئې نه پوهېږم ولې زما بد بختي ګڼي۔"(۲٤)

د ښځې د يو بلې نه نفرت د ميزوجيني برخه ده۔ تانيثيت کښې دښځو د حقونو اواز پورته کېږي۔ تانيثيت يو ځان له تحريک دے۔ مابعدجديديت د دې په حقله د امتيازاتو او متبادلاتو خبره کوي۔ د سوچ بدلون ټولنه بدلوي۔ په نوې زاويه سوچ کول د مابعد جديديت طرف ته رجحان او ميلان دے۔ د تانيثيت تحريک ايکټيوسټس دا نظر لري چې د ښځو په حقله د نرې سوچ اوس هم د بنياد پرستۍ په شان دے۔ په پښتو ټولنه کښې داسې مثال نه شته چې څوک اووائي چې هلک د جينۍ سره اوتښتېدو يا هلک جينۍ ته وادهٔ شو'۔ د پټرياركي په شكل كښې ښځه د دويمې درجې انسان شمارل کېږي۔ دراصل دا د متن د لاشعور اثرات دي کوم چې په ټولنه کښې په سوچ حاوي دي۔ د انساني رويو دې سوچ ته تقويت ورکړے دے۔

مياشت مخکښې ئې په ګودر کښې په زوره خندلي وو۔ دا خبره يوې کليوالې کوکوکلې ته کړې وه۔ کوکوکلې د دې نجلۍ مخ پر ځمکه ورسولوه۔ ورته وئيل ئې چې ولې داسې مسته ئې ـ يارانې ته دې زړهٔ شوے۔ دلته د نجلۍ له خندا هم د شهوت مانا اخيستل کېږي۔ خندا ياني بې حيائي۔"(۲٥)

ګلوبلائزيشن د نيشنل ازم ضد دے۔ نيشنل ازم د يوې محدودې جغرافيې خلق، ژبه، کلتور نوم دے۔ ګلوبلائزيشن د دې محدودياتو نه ازاد حالت دے۔ ګلوبلائزيشن د نړۍ په کچ د ژوند مفکوره ده۔ په ګلوبلائزيشن کښې يو فرد د دې نړۍ زمکې اوسېدونکے دے۔ په نيشنل ازم کښې هر انسان په انفرادي توګه د خپلې جغرافيه، ژبې او کلتور سره تړلے دے۔ ګلوبلائزيشن د ټيريټوريل کلتور مرکز دے۔ کلتور د يوې خاص جغرافيې پېژندګلو او ښکلا ده۔ ګلوبلائزيشن د پيريفري (periphery) تضاد دے۔ د ګلوبلائزيشن په حقله اجمل پسرلے ليکي!

"جرأت مې اوکړو، ورمخته شوم او ورته ومې وئيل: ته (مونيکا) نه ئې چې په لوډ سپيکر کښې اعلان اوشو چې ټوکيو ته۱۳۱۲الوتکه الوتو ته چمتو ده۔ نو خبرې مو

سره ونه شوې۔ دوه ساعته سره وغږېدو خو وخت لکه د سترګو په رپ کښې چې تیرېږي، تېر شو۔ اوس دې هم د پخوا غوندې خوښه شوه۔ پنځه کاله هېڅ عمر نه دے خو دا ډېره بدله شوې۔ نو اوس دې مینه پرې رانغله۔ پیاله ئې کلکه پر میز کیښوده۔ ارمان مې شو چې کاشکې په یوې خوا تلے، دا ټوکیو ته تله او زه لندن ته راغلم۔"(۲۶)

"میزوجیني د ښځو او جینکو نه نفرت، د حقارت نظر کول یا د هغو خلاف معتصبانه رویه لرلو ته وئیلے شي۔د میزوجیني په ډېرو طریقو وضاحت کېږي بشمول د ټولنې نه ایستل، د جنس تفاوت، کینه لرل، د نر او ښځې توپیر، پدرسري ، نر ته زیات توجه کول، ښځې نظر انداز کول، په ښځو تشدد کول او ښځو ته د لوښي نظر کول شامل دي۔ محمدصدیق پسرلے کوچےملا (ناول) کښې د میزوجیني یو ښۀ مثال راوړي۔

"له چا سره صلاح کوې؟ هغه دې زامن دي، دلته موجود دي، نور لا واړه دي، که له ښځې سره صلاح کوې، ښځې ناقص العقلې وي، په خیر او شر نه پوهېږي۔"(۲۷)

د ښځو سره ناروا سلوک یا ښځو نه د نفرت په حقله رحیم اللّٰه بشارت په پولیسي ناول ۳۸ بجې ۴۰ دقیقې کښې د ټولنې ناروا سلوک نه پرده پورته کوي او لیکي!

"نو خاوندان ښځې داسې وهي لکه ته چې ئې وهلې ئې؟ سړي ټول دغسې دي۔ ولې ټول انسان وژونکي دي؟ انسان وژونکي به نه وي خو ښځه وهونکي دي۔ ښځو ته ټول یو شان دي۔"(۲۸)

فکشن کښې سائنس نفوذ پذیر دے۔ مابعد جدیدیت د فکشن سائنسي اړخونه ګوري۔ فکشن اګرچې د ځان نه رغول یا جوړول دي مګر سائنس فکشن په دلیل زور ورکوي۔ هغه سوالونه چې جوابونه نه لري۔ سائنس فکشن د هغې جواب وئیلو سعي کوي۔ سائنس د دلیل نه پرته څۀ نه قبلوي۔ فکشن خیالي دنیا ده مګر د دنیا محض خیالي اړخ شخړې نه حل کوي۔ دنیا د مختلفو قومونو

د ټولنو مجموعه ده۔ انسان د سائبر پنک په حالت کښې سائنس فکشن کېدو طرف ته په چټکتیا روان دے۔ د سائب ارګ په شکل کښې انسان د سوپر هیومن شکل طرف ته روان دے۔

د سائنس فکشن په حواله محبوب شاه محبوب لیکي!

" خو بیا مې هغه خبرې چې څو ورځې وړاندې راته په مرکه کښې ډاکټر یوسفزي کړې وې، راپه یاد شوې، د HIV (ایډز) او (UTI) یو تې ائې کلمې مې په سر کښې ښکته پورته شوې، هرې غوښتنې مې له ذهنه کډه اوکړه۔"(۲۹)

د مصنف مرګ د مابعد جدیدیت نوې احتراع ده۔د مابعد جدیدیت تحریک مصنفین د مصنف د مرګ فلسفیانه تشریحات او توضیحات په دوه قسم کوي۔ یو دا چې مابعد جدیدیت د مصنف لیک د لوستونکي په لوست او شرح باندې پرېږدي۔ د دې وضاحت داسې کېږي چې متن په خپله چې کومه معنی یا مفهوم لري د هغې فیصله به لوستونکے کوي۔ دا په لوستونکي اډانه ده چې هغه ترینه څۀ معنی او مفهوم اخلي۔ د مصنف مرګ سره د لوستونکي پیدائش کېږي۔

دویم د مصنف د مرګ په حقله د مابعد جدیدیت تحریک مصنفین دا هم وائي چې مصنف په لاشعوري توګه د بل مصنف د لیک د اثر لاندے دے۔ کله چې کوم مصنف یو لیک کوي نو په هغه به د بل کوم مصنف اثر ضرور وي۔ په مصنف په لاشعوري توګه د بل مصنف د لوستي متن اثرات وي او هغه ترینه په خپل متن کښې ظاهر شي۔ د دې مطلب دا شو چې لیکوال به ضرور څۀ نوې احتراع نه کوي بلکې د مخکښې نه موجود متن به یو قسم نقل کوي مګر دا تقلید کېدے شي مګر بریکولیج نه شي کېدے۔

تاریخ د مابعد جدیدیت تحریک په نظر کښې د یو انسان په هغه وخت کښې د ژوند کولو لائف سپین (Life Span) یعني د کوم وخت نه کوم تر کوم وخت پورې محدود دے، د انسان دې ژوند سره د نړۍ یا د کائنات ژوند تقابلي جائزه اضافیت دے۔ سټیفن هاکنګ د بل کائنات پیش ګوئي کوي مګر هلته رسائي ناممکن ښائي۔ د نړیوال تودوخې سره مستقبل د تشکیک ښکاري دے۔ ۲۰۷۷ء کال کښې به د قحط یا مائیګریشن څۀ حالت وي کوم چې د سائبر پنک موضوع ده۔ د نړۍ تودوخې سره د سنټریفیټل قوت (Centripetal Force)یا سنټري فیوګل قوت(Centrifugal Force)

باندې څۀ اثر پريوځي شي۔ فکشن کښې دې ته ځکه ارتيا ده چې آرټس اوس په دې موضوعاتو پوهېدل غواړي۔ سائنس او آرټس د يو بل سره متوازي روان دي۔ سائنس که د ايجاداتو دنيا ده۔ آرټس د دې تر شا د خواهشاتو او جذباتو دنيا ده۔

د تاريخ مرګ په حقله نصير احمد احمدي ليکي!

> "پيشو ووئيل: څۀ ئې کوې! رحمدل وويشته۔ زما د خبرې ځواب دې رانه کړو۔ کارغه ووئيل: له ښځه زره کلن تاريخه ئې نه يم خبر، خو د رحمدل دوي پلارونه او نيکونه رامعلوم دي۔ بس ! رحمدل دوي ته ګوره، که په دې خلقو کښې پوهه وينې، نو پخواني ئې عالمان وو۔ که نه له رحمدل دوي تړکے فرق نه کېده۔ "(۳۰)

پدرسري نظام کښې د کور واک او اختيار د سړي په لاس کښې وي۔ پدرسري نظام کښې د نيکه، پلار، ورور، تره، ماما او تر دې چې د وړه ورور په شکل کښې د کور نظام واک وي۔ تانيثيت تحريک د پدرسري نظام ضد دے۔ پدرسري نظام کښې د ښځو ازادي باندې قد غن وي۔ ښځه په هر حالت کښې سړي ته جواب ده وي۔ د دې برعکس سړے ازاد وي۔ سړے د واک خاوند وي مګر ښځه د سړې تابع وي۔ په پښتو ټولنه کښې ښځې د مختلفو بندېزونو سره مخ دي۔ د ژوند په هر ډګر د يو کار تر سره کولو دپاره د اجازت طلب ګاره وي۔ سړے د اجازت ورکولو يا نه ورکولو مجاز وي۔ ښځه د پېشو په لحاظ يو کار سر کولو دپاره د کور مشر په سپرد کې وي۔ پدرسري نظام په ټولنه کښې کور د باورچي خانې نه واخله تر دودونو او دستورونو پورې د سړې په ګټه انحصار کوي۔ د ښځې واک نه وي چې د معاش ګټلو دپاره د کور نه اوځي۔ په پدرسري نظام کښې د سړي له خوا په ښځو ناروا ظلم هم د پدرسري نظام برخه ده۔ پښتو ټولنه د ناروا رسمونو او رواجونو زخيم حجم لري۔ په دې کښې يو عنصر د پدرسري نظام دے۔ په پدرسري نظام کښې د خاندان يو هلک هم د يوې لوئې ښځې واک په لاس کښې اخستے شي۔ په پدرسري نظام کښې ښځه محتاج مخلوق دے چې د سړې په واک کښې ژوند کوي۔ پدرسري نظام سړے به هره ناروا په ښځې مني۔

تانیثیت د پس ساختیات برخه ده۔ په تانیثیت کښې د ښځو حقونو خوندي کول دي۔ تانیثیت تحریک کښې د برترۍ احساس رد کېږي مګر د مساوي حقونو ترویج کوي۔ مابعدجدیدیت فیمینزم ته د زور متن ساخت شکني په نظر ګوري۔

پدرسري نظام ، میزوجیني او تانیثیت ته د مابعد جدیدیت نقادان یوې بلې اصطلاح پلورلزم (Pluralism) طرف ته میلان زیات دے۔ د مابعدجدیدیت لیکوالان او نقادان وائي چې صداقت یوه اضافي اصطلاح ده۔ صداقت ته څۀ مرکزي معني حاصله نه ده۔ د دې نقطه نظر حمایت د ټولو نه اول جرمن فلاسفر فریډرک نطشے اوکړو چې صداقت ته کلیت نه شو وئیلے۔ مابعد جدیدیت د یو واقعې یا صورت حال څۀ برتر وضاحت نه شي کېدے۔ تکثریت (Pluralism) کښې یو توضیح ته په بل توضیح څۀ فوقیت حاصل نه دے۔ د پدرسري، میزوجیني او تانیثیت برعکس د تکثیریت اصطلاح داسې صورت حال دے چې ټولنه کښې د موافقت او مطابقت په بنیاد ځائے نیول دي۔

پښتو فکشن کښې که د تشبیهاتو، استعارو او کنایو داسې اظهار قطعي قابل نفرت دے چې برجسته د یو نسل، فرقې یا مذهب سپکاوې ترینه ظاهر شي۔ د مصنف د علمي سطحې اندازه د دې نه کېدے شي چې هغه په کومو لفظونو اظهار کوي۔ د لفظونو اظهار دپاره علمي ذهانت په کار دے۔ د مشاهداتو په لیک کښې راوستل د معنو او مفهوم اصل متن جوړوي۔ اصل متن د مصنف نه د لوستونکي په نتائجو اډانه لري۔ متن کښې داسې اظهار قابل مذمت شي کله چې د نړیوال ځې نه لاندې وي۔ لیک د نړیوال ادبي معیارو په زاویه په کار وي۔ د دریدا د متن رد تشکیل بیانیه د دې یو شکل دے۔ ختمي حقیقت ته رسېدل د ادب دپاره چیلنج دے۔

مابعدجدیدیت تحریک د ټیکنالوج د ترقۍ دپاره لازم جز ګڼي۔ د سائبرپنک په حواله لیکي چې یو وخت به راشي چې انساني ژوند کښې به د سماجي ژوند نه ټیکنالوجي اثر زیات شي۔ انسان د سائب آرګ په شکل کښې مشیني انسان سائبرارګینیزم (Cyber Organism) وي۔

"دفتر کښې ناست وم۔ په انټرنیټ کښې مې د ایبولا ناروغۍ په اړه پلټنې کولې۔
ملاله د چایو د ترموز سره راغله ۔"(۳۱)

د ساختیاتو د متن په حواله د رد تشکیل د پس ساختیات په تناظر کښې په نړیوال کچ زیر بحث موضوعات دي۔ د متن ساخت شکني سره مسائلو راپورته کولو سره د دې حل دپاره د ډي کنسټرکشنشټس (Deconstructionists)لوئې شخړې سره مخ دي۔ د متبادلاتو دپاره لوازماتو تحقیق کول په کوم کښې چې د نیو میډیم خبره کېږي شبهات او ممکنات تر مېنځ یو بل کېفیت دے کوم ته چې ډي کنسټرکشنسټس د 'اپیوریا' وائي۔ د بائنري ایکسټریمیټیز(دو انتهاو حدونو(Binaray Extermities) کښې د لفټسټس (leftists)او رائټسټس (Rightists) مفکورو(Discourses) یا بیانیو(Narratives) کښې مېنځنۍ لاره د نیوټریلیټي (Neutrality) شکل اختیار کړي کوم چې د ټولنې د ژوند ژغورنې کښې پاتې راځي۔

مابعد جدیدیت داسې اصطلاحات وضع کوي چې د وخت ضرورت وي۔ پروفېسر سمیع الدین ارمان د مابعد جدیدیت د داسې یوې اصطلاح څېړنه کوي کوم چې د نیولوجیزم په نوے دے۔ دې ته ورته په پښتو ادبیاتوکښې اصطلاح ته د پشتوډائزیشن نوم ورکړے شوے دے۔ په کوم کښې چې به د نوې ایجاداتو او دریافتونو ته کوم چې د نورو ادبیاتو سره تړون لري، د هغه نومونو پښتو اړول شامل دي۔ د یو بل اصطلاح کرکشن په اړه لیکي!

"کرکشن دفکشن او کرټسیزم نه جوړ شکے دے۔ دا د فکشن د تنقید د روایت نوم دے۔ دا نوې اصطلاح ده او د جوړښت سائنس ئې زور دے۔ په انګرېزۍ کښې دې ته نیولاجیزم (Neologism) وائي۔(۳۲) "

مابعدجدیدیت په هره حواله په ادبي نړۍ کښې د جدیدیت تحریک نه پس ادبي تحریک دے۔ ما بعد جدیدیت په ادبیاتو د ژوند د متبادلاتو تحریک دے۔ مابعد جدیدیت په فکشن کښې ژوند په نوے انداز کښې لیدل غواړي۔ په پښتو فکشن کښې د مابعد جدیدیت تحریک ابتداء د یوولسم سټمبر ۲۰۰۱ء د پېښې نه کېږي۔ مابعد جدیدیت په ډکشن، هئیت، تیکنیک، موضوعاتو او اصطلاحاتو په حواله متبادل تحریک دے۔ په مغربي نړۍ کښې د مابعد جدیدیت لیکوالانو کښې ژاک دریدا، ژاک بدریلا،روان بارتهه، لیوتارډ، باډریلارډ، مثل فوکو، فوکویاما، کافکا، ماټن هائیډیګر، ټیري ایګلټن، کرسټیوا، لاکان او داسې نور ډېر شامل دي۔ په مشرقي ادبیاتو (اردو) کښې ډاکټر وزیر آغا،

ډاکټر ګوپي چند نارنګ، ډاکټر شمس الرحمان فاروقي، ډاکټر محمد اشرف کمال، ډاکټرناصر عباس نئیر، ډاکټر اقبال افاقي او داسې نور شامل دي۔

پښتو فکشن کښې په مابعد جدیدیت لیکونه روان دي۔ نصیر احمد احمدي، پروفېسر راز محمد راز، سمیع الدین ارمان، اجمل پسرلے،عبدالرحیم روغانے، اجمل ښکلے او رحیم الله بشارت په دې حواله لیکونه کړي دي۔ د ژباړو په شکل کښې جبارفراز، عزیزبسام او عطاء محمد هیله من په دې حواله کار کړے دے۔

## ماخذونه


۱: کمال، محمداشرف، ڈاکٹر، اصطلاحات،(ادبی، تنقیدی، تحقیقی، لسانی)، بک ٹائم اردو بازار کراچی، 2017ء، ص367

۲: احمدي، نصیر احمد، پټان (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۱۰۸

۳: https://en.wikipedia.org/wiki/Postmodernism#Literature, accessed on May 22, 2018.

۴: اقبال، آفاقی، ڈاکٹر، مابعدجدیدیت(اصطلاحات اور معانی و تعبیرات و تشریحات)، نیشنل بُک فاونڈیشن اسلام اباد، جولائی 2016، ص 105

۵: نئیر، ناصر عباس، ډاکټر، مابعد جدیدیت(اطلاقي جهات) بیکن بکس اردو بازار لاهور،۲۰۱۵ ص ۱۳

۶: اقبال، آفاقی، ڈاکٹر، مابعدجدیدیت(اصطلاحات اور معانی و تعبیرات و تشریحات)، ص107

۷: ایضاً ، ص109

۸: کمال، محمداشرف، ڈاکٹر، اصطلاحات،(ادبی، تنقیدی، تحقیقی، لسانی)، بک ٹائم اردو بازار کراچی، 2017ء، ص367

۹: احمدي، نصیر احمد، جُوجُو (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۲، مخ ۱۷

۱۰: http://www.onpostmodernism.com/terms, accessed on August 18, 2018.

۱۱: ایگلٹن، ٹیری، تھیوری کے بعد، (ترجمه: محمد داؤد راحت)،بیکن بکس، غزنی سٹریٹ اردو بازار لاهور، 2017، ص61-62

۱۲: احمدي، نصیر احمد، پټان (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۱

۱۳: روغانے، عبدالرحیم، کوربانه خیالونه، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور، دسمبر ۲۰۱۰، مخ ۱۵

۱۴: راز، راز محمد، پروفېسر، عاشو، لمر او باران اوري، فکرنو ادبي فورم پشین، ۲۰۰۸، مخ۲۳۶

۱۵: واکمن، محمد رفیع، یو خوب وۀ چې ربښتیا شو (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۱، مخ ۱۴،۱۵

۱۶: احمدي، نصیر احمد، جُوجُو (ناول) ، مخ۱۲۲
۱۷: پسرلے، اجمل، لپه (افسانې)، سروش پلورنځے کابل، ۲۰۱۸، مخ۱۲
۱۸: احمدي، نصیر احمد، جُوجُو (ناول) ، مخ ۱۵۸
۱۹: روغانے، عبدالرحیم، کوربانه خیالونه ، مخ ۱۵
۲۰: احمدي، نصیر احمد، جُوجُو (ناول) ، مخ ۱۲۴
۲۱: بشارت، رحیم الله ، ۳۸ بجې ۴۰ دقیقې (پولیسي ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۰، مخ ۷۶
۲۲: احمدي، نصیر احمد، جُوجُو (ناول) ، مخ ۱۲۵
۲۳: ښالېز، اسدالله، ډاکټر، تېښته (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۲، مخ ۱۷۹
۲۴: حیران، محمد حنیف، ملاله (ناول)، مومند خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، جلال اباد، ۲۰۱۵، مخ۶۴
۲۵: احمد، نصیر احمدي، اخ وطنه (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۱۷
۲۶: پسرلے، اجمل، لپه (افسانې)، سروش پلورنځے کابل، ۲۰۱۸، مخ ۱۹
۲۷: پسرلے،محمدصدیق، کوڅےملا (ناول)،سروش کتابپلورنځے،مینه مارکیټ کوټه سنګي کابل افغانستان،۲۰۱۸،مخ ۱۲۰
۲۸: بشارت، رحیم الله، ۳۸بجې ۴۰ دقیقې (پولیسي ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۰، مخ۱۱۵
۲۹: محبوب، محبوب شاه، ډمه او خبریال (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۶
۳۰: احمد، نصیر احمد، اخ وطنه (ناول) ، مخ ۸۴
۳۱: حیران، محمد حنیف، ملاله (ناول)، مومند خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، جلال اباد، ۲۰۱۵، مخ ۸۶
۳۲: ارمان، سمیع الدین، پروفېسر، تنقیدي تعبیرات ۲، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه، ۲۰۱۷، مخ ۱۴۳